پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۸/۱۵

# ډنمارکیان او پښتو ادب

## دویمه‌برخه

## Pathanske Folkeeventyr

## (د پښتنتو ولسي‌کیسي)




د دې مقالې (ډنمارکیان او پښتو ادب) لومړۍ برخه مې د ۲۰۲۵ ام کال په سپتمبرمیاشت کې خپره کړه، هلته ما د «افغاني قصې او نقلونه» په نامه چې د یوې ډنمارکۍ مېرمنې (ګریت انولدسین ـ Grethe Enevoldsen ) له خوا له پښتو څخه ډنمارکي ژبې ته ژباړل شوې د څوارلسکیسوټولګه ده، بحث او خبرې کړې وې.

په یاده مقاله کې ما لیکلي وو چې ډنمارکیان ولې او د څه له پاره د پټان میشن (Pathanmissionen) او پټان سي بي آر اورګنایزېشن (Organization CBR Patan) له لارې پښتنې سیمو ته تللي وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

ځینو ډنمارکیانو پښتني سیمو ته د خپل ماموریت په څنګ کې پښتو ژبه هم زده‌کړې وه، له پښتني ژوند سره د ځانګړې مینې له مخې یې، پښتني فولکلور ته پاملرنه کړې او د پښتني فولکلور ځینې برخې یې راټولې کړې دي. ډنمارک ته تر راتګ وروسته یې خپلو خلکو ته د پښتني فولکلور بېلګې ډنمارکي ژبې ته ژباړلې دي او خپلو لوستونکو ته یې وړاندې کړې دي چې د حساب وړ بېلګې یې په ینس کریستیانسن (JensChristensen) پورې اړه لري.

د ۱۹مې او ۲۰مې پېړۍ په لړ کې د پټان میشن (Pathanmission) مامورینو د افغانستان او شمالي هند له پښتنو سیمو سره اړیکه درلوده، د دغو مامورینو په لیکنو، رپورټونو او یادابښتونو کې ډېرې کیسې، افسانې او فولکلوري مواد ثبت شوي دي، چې یوه بېلګه یې د **د ینس کریستنسن** (Jens Christensen) تربحث لاندې کتاب «Pathanske Folkeeventyr» (د پښتنو ولسيکیسې) دي.

**ینس کریستنسن څوک و؟**



په پیل کې باید دا خبره وکړم چې دا لاندې دوه کسان:

Jens Enevoldsen

**Jens Christensen**

چې د پښتني فرهنګ د راټولولو او په اروپا کې یې د ژباړلو او خپرولو خدمت کړی دی، یو شخص ونه ګڼي، دا دوه جلا اشخاص دي. د دوی د فعالیتونو ګډ ټکی دا دی چې دواړو پښتو ژبه زده کړې وه او دواړو د پښتو فولکلور د راټولو په برخه کې کار کړی دی. په دې مقاله کې زه د ینس کریستینسن او پښتني فرهنګ ته یې د خدمت په باب خبرې کوم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## د ینس کریستینسن پېژندنه:

ینس کریستینسن یو ډنمارکی مبلغ، لیکوال او د ختیځو ولسونو د کلتور څېړونکی و، چي د پښتنو سیمو، په ځانګړي ډول د هغه وخت د «Pathan» یا پښتنو د ټولنې، له ولسي ادب او شفاهي روایتونو سره یې مینه لرله.

ینس کریستنسن د ۱۸۹۹م کال د اګست پر ۲۴مه زېږېدلی دی او د ۱۹۶۷م کال د اګست پر پنځمه مړ شوی دی.

د ینس کریستینسن په بیوګرافی پسې مې چې لټه پیل کړه، تر ټولو لومړی په ویکیپیډیا او د ډنمارک د ژوندلیکونو په دایره المعارف کې پیدا کړه، ما له همدې دایره‌المعارف څخه د ده د [ژوندلیک](#) ځینې برخې رااخیستي دي، وګورئ:«

Jens Christensen (24.7.1967 – 24.8.1899) یو مبلغ او اسقف و. هغه په Chicago کې زېږېدلی او په Viby J کې وفات شوی...

هغه خپله د الهیاتو زده کړه په New York کې په ۱۹۲۱ کال بشپړه کړه، او په ۱۹۲۲ کال کې د یوه امریکایي تبلیغي ټولنې له خوا د هند د شمال لوېدیځ سرحدي ایالت ته واستول شو. هلته یې له یوې ډنمارکی مبلغې او نرسې، Margrethe Rasmussen سره واده وکړ. هغې په ۱۹۲۰ کال کې د «ټیلت میشن» له خوا هند ته استول شوې و، چې وروسته د "دانسک پټهان میشن" په نوم مشهور شو.

له فبروری ۱۹۲۶ څخه کریستینسن د ټیلت میشن لومړنی نارینه مبلغ شو. هغه او مېرمن یې د سرحدي سیمې په مردان (Mardan) کې مېشت وو او تر ۱۹۶۶ پورې یې هلته خدمت وکړ، تر هغه چې د روغتیایي ستونزو له امله ډنمارک ته ستانه شول...

دویمې نړیوالې جګړې د ډنمارک او دوی ترمنځ اړیکې بشپړې پرې کړې، او کریستینسن د یو وخت لپاره د هندي پوځ د جلب و جذب افسر په توګه کار وکړ. هغه د سرحدي سیمې او د پټهان قوم ترمنځ د اوږدې مودې ماموریت پر مهال د اردو او پښتو ژبو، او د سیمې د کلتور او دودونو په باب معلومات ترلاسه کړل.

هغه د مذهبي او ولسي لیکنو ژباړې هم له پښتو او هم پښتو ته ترسره کړې. په دې برخه کې تر ټولو مهم کار یې د «نوې عهدنامه» ژباړه وه، چې د جګړې پر مهال یې وکړه او له همدې امله د British and Foreign Bible Society افتخاري غړیتوب ورکړل شو.

په ۱۹۴۹ کال کې یې د اسلام د دین په اړه یو کتاب خپور کړ، چې ډېر شهرت او پراخ هرکلی یې ترلاسه کړ. دغه اثر په ۱۹۵۹ کال کې چاپ شو.

کریستینسن د راتلونکو مبلغینو لپاره د کورسونو له لارې هم ډېر اغېزناک و. هغه د ویناوو، وعظونو او مقالو له لارې په دوامداره ډول هڅه کوله چې د تبلیغ اهمیت روښانه کړي...

هغه له مسلمانانو سره هم مناظرې او بحثونه کول او د روښانه او بې جوړجاړي لوتري عیسوي دریځ له مخې یې د اسلام او عیسویت ترمنځ پرانیستې خبرې اترې کولې.

کریستینسن یو مهم مبلغ و، چې د بنسټیزو مؤسسو تر کنټرول لاندې تبلیغ ته انتقادي نظر درلود او ټینګار یې کاوه چې یوازې "د خدای کلام" اصل باید وسائل شي...

وروسته یې د دانسک پټهان میشن له مشرتابه سره جدي اختلافات رامنځته شول...»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په ویکي پیډیا کې د ینس کریستنسن د ادبي فعالیتونو په باب داسې راغلي دي:

**«ادبي فعالیتونه**

کریستینسن چې کله NWFP ته ورسېد، سمدستي یې د پښتو ژبې زده کړه پیل کړه. په ۱۹۲۷ کال کې یې په پښتو ژبه د تبلیغي رسالو لیکل پیل کړل. د هغه لومړنی ډنمارکي کتاب د پښتنو خلکو او اسلام په اړه و.

په ۱۹۲۷ کال کې د پښتو ادبیاتو کمېټه جوړه شوه چې شپږ تبلیغي ټولنې پکې شاملې وې او کریستینسن یې مشر و. په مردان کې د «دارالتبلیغ» په نوم د مطالعې خونه د چاپ او وېش مرکز وګرځېد.

له انګلیسي، ډنمارکي او اردو ژبو څخه کتابونه وژباړل شول، لکه:

ـ د عیسی مسیح کړاوونه او ژوند،

ـ د کلیسا د کال دعاګانې او متنونه،

ـ د لوتر کوچنی کاتیکیسم،

ـ څو ډنمارکي مذهبي سرودونه...

په ۱۹۳۱ کال کې، کریستینسن د متی انجیل پښتو ژباړه پیل کړه، او په ۱۹۳۶ کال کې یې د یوحنا انجیل وژباړه. وروسته د نوي عهدنامې بشپړه ژباړه هم وشوه...»

د ینس کریستینسن د دیني عقایدو او باورونو لوی عالم و، د ده په باب داسې ویل کېږي چې:

**«... هغه داسې سړی و چې د خپل ژوند ډېر وخت یې له مسلمانانو سره کار کړی و. لږ کسان به پیدا شي چې د ده په څېر یې مسلمانان درک کړي وي او مینه یې ورسره کړې وي.»**

ینس کریستینسن د ډنمارک له هغو عیسوي مبلغینو څخه و چې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې د پښتنو سیمو ته ولاړل. هغه د هند او افغانستان سرحدي پښتني سیمو له خلکو سره اوږده موده ژوند وکړ.

هغه یو ډنمارکی مبلغ، لیکوال او د پښتني ولسي ادب راټولوونکی و، چې د پښتنو په سیمه کې یې ډېر کلونه تېر کړل.

هغه یوازې مذهبي مبلغ نه و، بلکې د پښتنو ژبې، دودونو، متلونو او ولسي کیسو سره یې ریښتیانی مینه درلوده. د همدې علاقې له امله یې ګڼې پښتنې ولسي کیسې راټولې کړې او په ډنمارکي ژبه یې ژباړلې او خپرې کړې دي.

له مهمو اثار څخه یې یو همدا تربحث لاندې کتاب Pathanske Folkeeventyr (پښتني ولسي کیسې) دی. دا کتاب په ۱۹۳۲م کال کې د ډنمارک په کوپنهاګن کې چاپ او خپور شوی دی.

ینس کریستینسن په پښتني سیمو کې د اوسېدو په موده کې پښتو ژبه زده کړې وه او د پښتنو د شفاهي ادب په ساتلو کې یې مهم رول درلود. هغه د کلیوالو خلکو له خولو کیسې، متلونه او ولسي روایتونه لیکل او بیا یې اروپایي لوستونکو ته معرفي کول.

د ده له خوا په راټولو شوو کیسو کې د پښتني ټولنې د غیرت، کورنۍ اړیکو، دودونو، طنز، قومي ژوند او... ښه انځورونه وړاندې شوي دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## اوس هم د ينس كريستينسن د پښتنو ولسيکيسي ( Pathanske Folkeeventyr) کتاب:

د پښتني ولسي کيسو دا ټولګه ښاغلي ينس په پښتني سيمو کې د خپل ماموريت په موده کې راټوله کړې ده، بيا يې ډنمارکی ژبې ته ژباړلې ده او په ۱۹۳۲ ام ميلادي کال يې د ډنمارک په کوپنهاګن کې د «Dansk Pathan Missions Forlag / Teltmissionen» پټې له خوا خپره کړې ده. د کتاب متن ۶۳ مخونه لري.

د کتاب همدا چاپي متن اوس زما په واک کې دی او زه همدلته له شاعر، ليکوال ګران فرهنګي دوست عبدالمالک بېکسيار نه مننه کوم چې دا کتاب يې د همدې مقالې د ليکلو لپاره ما ته په امانت ډول راوسپاره.

له هېواد نه بهر او بيا د بهرنيانوله خوا د پښتو ادبياتو په باب د څېړنو او ژباړو په لړ کې دا کتاب (Pathanske Folkeeventyr) ځکه مهم دی چې دا د هغو لومړنيو اروپايي آثارو له ډلې څخه يواځې دی چې د پښتنو ولسي نکلونه او کيسي يې د اروپايانو د لوستلو لپاره وړاندې کړې دي. په هغه وخت کې ځينې ډنمارکي او اروپايي مبلغين ـ محققين د پښتنو سيمو ته تلل او د خلکو شفاهي ادب، متلونه، کيسي او دودونه يې ثبتول چې دا کتاب يې يوه غوره بېلګه ده. په کتاب کې ولسي افسانې، اخلاقي کيسې، د پښتني دودونو انعکاس او شفاهي روايتونه راغلي دي.

دا کتاب تاريخي ارزښت ځکه لري چې د پښتو فولکلور د نړيوال معرفت له پخوانيو اسنادو څخه شمېرل کېدای شي. دليل يې هم دا دی چې دا کتاب د شلمې پېړۍ د دريمې لسيزې په پيل (۱۹۳۲) کې چاپ شوی دی، د پښتنو شفاهي ادب غوره بېلګې د اروپايي (ډنمارکي) لوستونکو لپاره وړاندې کوي او د هغه وخت د فرهنګي اړيکو يوه ښکاره او غوره بېلګه يې ګڼلای شو.

د کتاب په پيل کې د ينس کريستينسن په قلم يوه لنډه سريزه راغلې ده، دا به زه کټمټ راواخلم:

**«سريزه**

دا راټولې شوې او خپرې شوې کيسې د پښتنو تر منځ د ولسي افسانو يو ډول دی چې خوله په خوله، نسل په نسل تر دې وخت پورې رارسېدلې دي او د خلکو د ژوند د پوهې او ټوکو ـ ظرافت يوه ښه برخه څرګندوي.

تر کومه ځايه چې ما معلومات ترلاسه کړي، دا کيسې مخکې هېڅکله نه وې ليکل شوې، او نه هم چاپ او خپرې شوې وې. خو زما په اند، دا د دې وړ دي چې خپرې شي، څو د پښتنو د فکر او احساس د پېژندلو او پوهېدو په برخه کې مرسته وکړي.

انځورونه د يوه ځايي «هنرمند» له خوا جوړ شوي دي او هماغه ډول دي چې عموماً د دوی په کتابونو کې ليدل کېږي.»

آرهوس ــــ نومبر ۱۹۳۲

**Jens Christensen**

په دې مقدمه کې يو مهم ټکی دا دی چې ينس کريستينسن ادعا کوي دغه نکلونه يې له شفاهي روايتونو څخه راټول کړي وو او د هغه په وينا تر دې وړاندې نه وو چاپ شوي. زه بيا داسې وايم چې کېدای شي پخوا تر دې دا کيسې راټول او د کيسو په خپله ژبه پښتو راټولې او په متفرق ډول خپرې شوې وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

له دې ټولو خبرو سره ـ سره زه د ټولو افغانانو او ټولو پښتنو په استازولۍ له ينس کريستينسن نړۍ مننه کوم چې ډېر پخوا يې د پښتو ژبې دا کيسې راټولې کړي دي، ډنمارکۍ ژبې ته يې ژباړلي دي، بيا يې چاپ کړې دي او ډنمارکيانو ته يې د مطالعې له پاره وړاندې کړې دي. په دې ډول يې کېدایشي د لومړي‌ځل له‌پاره ډنمارکيان او اروپايان له پښتو فولکوريکو کيسو سره اشنا کړي وي.

په ياد کتاب کې د پښتو فولکوريک ادب پنځه‌لس کيسې راوړل شوې دي، دا لاندې د کيسو د سرليکونو او ژباړې فهرست دی:

den besatte

نيول شوی (تسخيرشوی، تابعشوی، رامکړای شوی)، ۵ اممخ

Hovmod står for fald

غرور او تکبر د انسان د لوېدو يا سقوط سبب ګرځي، ۱۰ امخ

Rivaler

سيالان، ۱۵امخ

hjertesorg

زړه‌سواندي (زړه سوی، عاطفي درد)، ۱۹ امخ

Forsynstro

باور، داډ (د خدای پر تدبير باندې باور)، ۲۳ ام مخ

slikmunden

د خوږو ډېر شوقي کس، نفساني غوښتني خوښونکي، ۲۷ امخ

æblet falder ikke langt fra stammen

منه له ونې لرې نه‌لوېږي، ۳۱ امخ

pilgrimmen

حاجي، زيارت کوونکی، ۳۵ امخ

veltalenhed

فصاحت، ۳۷ امخ

kvindelist

د ښځې ځيرکتيا، د ښځې تدبير، ۴۱ امخ

da fasten blev dræbt

کله چې روژه ووژل شوه، مطلب يې کېدای شي
دا وي چې روژه، صبر يا ځان کنترول مات شو، ۴۶ امخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ærbødighed

درناوی، ۵۱ اممخ

hesteægget

د اس هگۍ، ۵۵ اممخ

nabofamilierne

ګاونډۍ کورنۍ، د چمګاونډ کورنۍ، ۶۰ اممخ

For og søn

پلار او زوی، ۶۲ اممخ

د ینس د اثارو په باب باید وویل شي چې موږ ته د ده ترټولو مهم اثر د ده همدا د کیسو ټولګه (Pathanske Folkeeventyr) ده او بیا هغه اثار دي چې ده پښتو ژبې ته راژباړلي دي لکه:

ـ د متی انجیل ژباړه (۱۹۳۱)،

ـ د یوحنا انجیل ژباړه (۱۹۳۶)،

ـ د نوي عهدنامې د پښتو ژباړې د کمېټې مشري،

ـ بشپړه بیاکتل شوې پښتو نسخه (۱۹۴۵).

د ینس بل مهم اثر (Mission to Islam and Beyond) (اسلام ته تبلیغي مأموریت او له هغه وروسته) نومېږي، دا لاندې یې لینک دی:

https://www.answering-islam.org/Books/Christensen/christensen.pdf?utm_source=chatgpt.com

دا کتاب تر ډېره د اسلام او عیسویت ترمنځ د دیني او فکري بحثونو په اړه دی، او په ځانګړي توګه دا بیانوي چې عیسوي مبلغین څنګه له مسلمانانو سره خبرې او تبلیغ وکړي. په کتاب کې دا موضوعات شامل دي:

ـ اسلام او عیسویت ترمنځ عقیدوي توپیرونه،

ـ له مسلمانانو سره د تبلیغ طریقې،

ـ د قرآن او بایبل په اړه بحث،

ـ د حضرت محمد ﷺ په اړه د لیکوال نظرونه،

ـ د تثلیث (Trinity) عقیده،

ـ د ایمان، شریعت او اخلاقو پرتله،

ـ د مسلمانانو د دیني فکر او عیسوي فکر مقایسه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

کتاب په اصل کې د یوعیسوي تبلیغي له نظره لیکل شوی، نو د اسلام په اړه یې بحثونه د اسلامي علماوو له نظرونو سره یو شان نه دي.

د ینس د اثارو او د ده په باب د ګڼو یاداشتونه ترلوستلو وروسته کولای شو ووایو چې:

ینس کریستینسن یوازې یو مذهبي مبلغ نه و؛ هغه د پښتو ژبې، پښتني فولکلور او د پښتنو د ټولنیز ژوند یو جدي څېړونکی هم و. د هغه د کار ډېره برخه د مردان، سوات، پېښور او د هغه وخت د شمال لوېدیځو سرحدي سیمو له پښتنو سره د اوږدې مودې اړیکو پایله وه.

ینس په پښتني سیمو کې د قدرور فرهنګي فعالیتونه کړي دي. کله چې دی په ۱۹۲۲م کال کې شمال لوېدیځ سرحدي سیمې ته ورسېد، لومړی یې پښتوژبه زده، وروسته یې پښتو د لیکنې، ژباړې او تدریس تر کچې ورسوله او د پښتو ادبیاتو د خپرولو لپاره یې منظم کار وکړ.

په ۱۹۲۷م کال کې د «Pushto Literature Committee» په نوم یوه ادبي کمېټه جوړه شوه چې شپږو تبلیغي ټولنو پکې برخه لرله او Jens Christensen یې مشر و. دې کمېټې د پښتو کتابونو لیکل، ژباړل او چاپول تنظیمول.

هغه په مردان کې د Dar-ul-Tabligh (دارالتبلیغ) په نوم د مطالعې او چاپ مرکز جوړ کړ. له همدې ځایه پښتو کتابونه، رسالې او نور چاپي مواد خپرېدل.

اصلي خبره د ینس له خوا د پښتني فولکلور راټولول دي، د همدې هڅو په ترڅ کې یې د پښتنو په کلیو او بانډو کې ولسي کیسې، شفاهي روایتونه او دودیز حکایتونه راټول کړل. د همدې کار پایله د Pathanske Folkeeventyr یا زموږ تر بحث لاندې کتاب دی.

ینس له M. A. Taib (د سوات یو پښتون لیکوال او شاعر) سره نږدې همکاري لرله. طیب د پښتو ژبې او سبک په سمون کې ورسره مرسته کوله او پښتو متنونه یې منظومول.

د پښتو او پښتنو د مطالعاتو له نظره، دا سړی ځکه مهم دی چې د شلمې پېړۍ په لومړیو کې یې د پښتني ولسي ادب د ثبت او خپرولو هڅه وکړه، او د پښتنو ولسيکیسې (Pathanske Folkeeventyr) د پښتني فولکلور کیسې له هغو لومړیوټولګو څخه یوه ده چې په یوې اروپایي ژبې په اروپا کې چاپ او خپره شوې ده.

د پښتو ادبیاتو لپاره د ینس د فرهنګي فعالیتونو ارزښت په دې کې دی چې ینس د پښتنو د شفاهي روایتونو یوه برخه خوندي کړې ده او په اروپا کې د پښتو ولسي ادب په لومړنیو ثبتوونکو کې یو همدی دی. بله دا چې د پښتو د چاپي ادبیاتو د ودې لپاره یې بنسټیز کار کړی دی.

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ